سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۰/۱۳

# د بل توفان اړتیا

د اقتدار د پاره زوی وژنی خپل پلار ربه!
هم لوټوی د مور د زړه ځنی قرار ربه!
د څو پیسو د پاره دومره دا انسان ټیټ شو
خرڅوی خپله لور او خور په تور بازار ربه!
په هره ورځ زمونږ له کلی د انصاف جنازی
د نابودی په لوری ځی قطار قطار ربه!
ایا دا عقل مو یواځی د هوس مزدور دی؟
چی ورځ په ورځ یی را کمیږی اعتبار ربه!
داچی ډیر شوی د کږو لارو ملګری دی نن
دا ثبوت نه دی د شیطان د اقتدار ربه؟
د معنویت او د اخلاقو دنیا چا ورانه کړه؟
چی نه یی ښکاری نمونه او نه اثار ربه!
دومره وړوکی شو انسان چی شو په ځان کی ورک
ته یی هم هیر یی که رحیم یی که غفار ربه
د کلیوال په اند کی ښکاری بل توفان ته اړتیا
یوځل بیا را وله د نوح توفان قهار ربه!

سپتمبر/۱۰/۲۰



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com